مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
Journal Homepage: https://www.resaearch.salam.edu.af
لومړی کال، دویمه گنه، تله - کب ۱۳۹۰ هـ.ش

# د "تجدید" معنی او مفهوم

# The concept of renovation

DOI: 10.64104/v1.Issue2.n3.2011

داکتر عبدالباقي عبدالکبیر[1]

## لنډيز

دغه څېړنه د "تجدید" یا نوي کېدنې مفهوم تر بحث لاندې راولي. څېړونکي په پیل کې د "تجدید" د کلمې لغوي معنا تشریح کړې، او هغه ټولې معناوې یې یادې کړې دي چې په لغوي قاموسونو کې راغلې دي. وروسته یې د دې کلمې معناوې په قرآن او سنتو کې بیان کړې دي. د دغو ټولو معناوو پر بنسټ، د دې اصطلاح اصطلاحي معنا روښانه شوې ده. د لا زیات وضاحت لپاره، څېړونکي د "تجدید" د شرعي اصطلاح ځینې ځانګړنې هم یادې کړې دي او ټینګار یې کړی چې دا ځانګړنې باید د تجدید د مفهوم په ټاکلو کې په پام کې ونیول شي. ورپسې، څېړونکي د پخوانیو او معاصرو عالمانو د نظریاتو یوه مجموعه راټوله کړې ده چې د تجدید په تعریف کې یې وړاندې کړې ده. د دغو نظریاتو په رڼا کې، څېړونکي په اسلام کې د تجدید ساحې بیان کړې دي او د دې د تایید لپاره یې د یو شمېر علمي کنفرانسونو پرېکړې او د معاصرو عالمانو وېناګانې هم ذکر کړې دي.

کلیدي کلمې: تجدید، غربی استعمار، دشرعي احکامو، قرآن، سنت

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)
د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۰/۱۲/۱۷    مخونه: ۲۸    د ۱۱۳ څخه تر ۱۴۰ پورې

[1]. د سلام د لوړو زده کړو د مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضا او څارنوالۍ د څانګې رئیس

**مقدمه**

غربی استعمار دخپل فکری جنگ په لړی کی دوه لاری ترلاس لاندی نیولی دی:

**اوله لار:** دوی غواړی چه په اسلامی نړی کی اسلامی دین دژوندانه دچارو څخه یوی خواته کړی، دین تنها په عبادتگاه (مسجد) کی محاصره کړی او اجازه ورنه کړی چه دمسجد نه بهر په مسایلو کی مداخله وکړی، او داسی بیانوی چه ددین ساحه ځانله ده چه دټولنی دچارو دتنظیم ساحه په هغه کی شامله نده، په دی معنی چه دین دالله او بنده ترمینځ درابطی څخه عبارت دی چه دهغه ځای عبادتگاه دی، او دژوندانه چاری باید ددین دقید څخه لیری دعقل دغوښتنو په رڼا کی تنظیم شی، ترڅو دټولنی نوو او متجددو غوښتنو ته مناسب ځواب ورکړای شی، او دټولنی دپرمختګ لپاره ددین دقید څخه په آزاد شکل سره فکر وشی، او که ټولنه داسلام دقیودو په رڼا کی تنظیم شی نو دټولنی دترقی او پرمختګ مخه به ونیسی، داخبره په اسلامی نړی کی هغه ځوک هم زمزمه کوی، چه په غرب کی یی تحصیل کړی او دغرب له افکارو څخه متاثر شوی او په نامه مسلمان دی اما داسلام ددین څخه ډیر اندک معلومات هم نه لری، البته غربیان داسلام په اړه ددی غلطی پوهی دترویج په هکله کی دوه لاملونه لری: یو داچه دوی اسلام په مسیحیت باندی قیاسوی، کوم چه دانسانی ټولنی دهر اړخیز تنظیم لپاره جوګه نه دی، او مسیحی عالمانو بیا په هغه کی خپل نظریات داسی ورداخل کړل او هغه ته یی ددین بڼه ورکړه، چه مسیحی دین یی دهرنوع علمی پرمختګ په مخ کی ودراوه. بل لامل داچه که داسلام دین په ټولنه کی په هراړخیز ډول سره پلی شی، نو هغه دملتونو دسرلوړتیا او پرمختګ سبب ګرځی، دملتونو دخودکفایی سبب ګرځی، هغوی داحتیاج او ضرورت دحالاتو نه وباسی، ملتونه نه پریږدی چه د استعمار غلامی ته غاړه کیږدی، یاهم دهغوی استعماری شرطونه داقتصاد او سیاست په برخه کی ومنی، تر څو دهغه شرطونو په نتیجه کی دملتونو شتمنی لوټ کړی، او یا هم دملتونو سرنوشت داستعمار دګټو په رڼا کی وټاکل شی، چه دا کار استعماری ملکونه دخپلو منافعو خلاف بولی، ددی په خاطر داسلامی دشمولی فهم دخپریدومخالفت کوی، او غواړی چه داسلام لوی تصور دانسانی ژوندانه دتنظیم په اړه په څو عباداتو کی خلاصه کړی او دینداران په هغه باندی مشغول کړی، او خپله دامتونو ټول امکانات او شتمنی دخپلی برلاسی لپاره په لاره واچوی.

**دوهمه لار:** دوی غواړی دینی ارزښتونو له خپل اصیل خط څخه بی لاری کړی، داسلامی دین خصوصیتونه او ځانګړتیاوی په هغه کی له مینځه یوسی، داسلامی دین دتغییر، تبدیل او تحریف زمینه جوړه کړی، ثابت شرعی اصول او احکام قابل دتغییر او تبدیل وبولی، ترڅو اسلامی دین دغربی فرهنګ سره هماهنګ کړی، او له دی لاری دخپل فرهنګ دنشر لپاره په اسلامی نړی کی زمینه جوړه کړی، او په نتیجه کی داسلامی دین مقاومت دغرب داستعماری حرکت په مقابله کی له مینځه یوسی، او یاهم دهغه توانمندی په دی هکله ضعیفه کړی، البته دا کوشش دتجدید تر عنوان لاندی په اسلامی نړی کی صورت نیسی.

په دی ځای کی یو بل حقیقت ته هم باید متوجه شو او هغه دا چه په اسلامی نړی کی داستعمار دموجودیت او ځینی داخلی نورو عواملو په بنا مسلمان علماء دټولنی دچارو څخه یوی خواته شول، داسلامی دین په بنسټ دټولنی دجوړولو نه په فاصله کی پاتی شول، او دهغه په نتیجه کی اسلامی هر اړخیز ارزښتونه دټولنی دټولو برخو دتنظیم نه لیری پاتی شول، او که ووایم چه ددی په نتیجه کی په عملی لحاظ سره اسلامی دین تنها دعباداتو او اخلاقی ارزښتونو په ساحه کی منحصر

شو، نو مبالغه به می نوی کړی، اسلامی دین دژندانه دشمولی تنظیم څخه لیری پاتی شو، دټولنی چاری په زیات انداز کی ددین دارشاداتو څخه بهر تنظیم شوی.

اسلامی عقلیت ددی دوه گونی حالت سره په عمومی شکل سره عادت ونیو، او دهغه سره یی انس واخیست، اما ددین دښمنه کوششونو په مقابل کی کوم چه استعمار چیانو د هغه لپاره په اسلامی نړی کی زمینه سازی کوله، کاملا حساسیت پیدا کړچه ددی په نتیجه کی په ټولنه کی داسی وضعیت را منځ ته شو، ترڅو بعضی دینی علماء دهر نوی څیز (ولو که داصلاح بڼه هم ولری) مخالفت وکړی او هغه ددین خلاف وبولی، او یاهم هغه دغربی فکری جنگ امتداد وبولی، او دا سبب شو چه هغه مطلوبه او مخلصانه کوششونه هم کله ناکله غلط وپوهیدل شی کوم چه په ټولنه کی ددین داحیاء او ژوندی کولو په خاطر په ټولنه کی د ددین دتجدید تر عنوان لاندی صورت نیسی. کوم چه داسلامی نهضت او اسلامی بیداری په لړی کي رامینځ ته شو او په اسلامی نړی کی دهغه تهداب سید جمال الدین افغانی کیښود، او بیا دهغه شاگردانو محمد عبده او محمد رشید رضا دهغه افکارو ته وده ورکړه چه دشهید امام حسن البنا دکوششونو په نتیجه کی اسلامی شمولی تجدیدی تصور واضح شو، او ددی ضرورت هم کاملا واضح شو چه مسلمانه ټولنه دهراړخیز پرمختگ لپاره باید په ټولو برخو کی اسلام ته رجوع وکړی، او داسلام دارښتونو په رڼا کی دژوندانه ټولی برخی داسی تنظیم کړی، چه دی یوی خوانه ددین په اصولو او ثوابتو باندی ولاړي وی او دبلی خوا دوخت او عصر غوښتنو ته مثبت او شمولی ځواب ورکړی، ترڅو دهغه په نتیجه کی دامت دبرم او عزت راگرځیدل ممکن شی، او امت دهغه په نتیجه کی دضعف او ناتوانی دحالت څخه دوتلو لاره پیدا کړی.

دهمدی پورته مطلبونو په رڼا کی دتجدید دکلمی په اړه دڅیړنی د ضرورت احساس کیږی، او ما وغوښتل تر څو دهیواد په دین مینو وطنوالو ته دتجدید دمفهوم په هکله دا څیړنه وړاندی کړم او په هغه کی دتجدید هغه معنی واضحه کړم، کومه چه مسلمانو علماوو دهغه په ضرورت باندی تاکید کړی، او د اسلامی تجدید مفهوم دهغه کوششونو څخه هم بیل کړم کوم چه دتجدید دعنوان لاندی ددین دنړولو، بدلولو او یا تحریف په خاطر صورت نیسی، په دی لیکنه کی ما اول دتجدید لغوی معنی تر غور لاندی نیولی، په قرآن کریم او نبوی سنت کی می دهغه څیړنه کړی، بیا می دتجدید اصطلاحی معنی تر غور لاندی نیولی، دپخوانیو او اوسنیو علماوو اقوال می داسلامی تجدید دمعنی په هکله راوړی، بیا می هغه فعالیتونه جمع بندی کړی کوم چه دعلماوو داقوالو په رڼا کی داسلامی تجدید تر مفهوم لاندی داخلیدلای شی.

دپاک الله نه غواړم چه زما دا لیکنه داسلامی امت دبرم او عزت د راگرځولو په طرف باندی یو قدم حساب کړی او هغه په خپل دربار کی قبول کړی.

**اول مبحث: دتجدید لغوی معنی:**

تجدید په اصل کې عربي کلمه ده، چې نوي کولو ته وایی، او د زړتوب نقضیه معنی لری، په عربی ژبه کې ویل کیږی (جدَّد الشيء) او دا هغه مهال ویل کیږي چه قدیمی شي نوي کړای شي او خپل اصلی حالت ته واړول شی[2]. ورځې او شپې ته په عربي ژبه کې (الجدیدان) (یعنی دوه نوي شیان) وایی ځکه چه ورځ او شپه هیڅکله هم نه زړیږی، همدارنگه ویل

2- محمد بن مكرم بن منظور الإفريقي (ت 711هـ)، لسان العرب، دبیروت خپرنځای, لومړی چاپ، دریم ټوك/111 مخ.اوأحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، علمي کتابخانه، بیروت، لبنان، لومړی ټوک92 مخ.

کېږي (جدَّد بيته) (يعنى خپل کور يى نوى کړ) يعنى هغه يى ترميم کړ، دهغه رنگ يى نوى کړ، دهغه دروازې او کړکۍ يې ټينگې کړى او ويى لگولې، دهغه مظهر يى سم کړ، هغه ځايونه يى ترميم کړل کوم چه زاړه شوي وو، او دکار نه وتلى وو او ياهم ورانيدو ته لنډ شوي وو، په عربى ژبه کې دکور نوي کول او دهغه تجديد دهغه دبيخه دورانولو او بيا له سره ودانولو معنى نه لرى. دا معنى دعربانو ددې قول نه ځرگنديږي چه وايى: (جدّدت وضوئي) (يعنى خپل اودس مى تجديد او تازه کړ) هغه خو داسى نه وايى چه ما اودس دماتيدو نه وروسته تازه کړ، ديته خو په عربى ژبه کې داوداسه تجديد نه وايى، بلکه ددې نه مراد د اوداسه تازه کول دي، سره ددې چه دهغه اودس مات شوى هم نه وي، اودس ددې لپاره تجديديږى چه اثر يې په لمونځ کوونکې باندى زيات او هغه ته فعاليت او تازه توب وروبښى، تر څو خپل لمونځ په پوره خشوع او اتقان سره اداء کړي.

په عربى ژبه کې متعاقدين هم يوبل ته وايى: (جدّدْ العهد) ( يعنى عهد او تړون تجديد کړه) هغوى داسى قصد نه لرى چه عهد له مينځه تللى او راځه چه بيا به قرار داد وکړو، بلکه دهغوى مطلب دادى چه په عهد او قرار داد باندى ډير وخت وتلى تر دى انده چه دواړه طرفونه نږدې دي چه خپل التزامات او وجايب هير کړي، او ياهم دخپلو التزاماتو په اداء کولو کې سستي کوي. نو دتجديد معنى دا نده چه نوى شى دسابقه شى په ځاى باندې مينځته راشي، او نه هم دسابقه ټولو شيانو دباطللولو معنى لري گواکې دا چه هغه خپل مفيديت له لاسه ورکړي، او بايد له مينځه لاړ شي، او داسې نوى شى مينځ ته راوړل شي ،چې په اصل او وصف کې دقديمى شى څخه بشپړ توپير ولري.[3]

تجديد په خپل عربى لغوى وزن کې (دتفعيل په صيغه کې) د متواصل او پرلپسې زيار اوهڅې معنى افاده کوى[4] او په هغه کې دغوښتنى معنى هم نغښتې ده ځکه دتجديد دکلمې په ابتداء کې چه کوم د(ت) حرف شته هغه دغوښتنى مطلب افاده کوى، يعنى دتجديد په کلمه کې دپرلپسې نوى کولو دکوشش(هڅې) غوښتنه پرته ده.

دتجديد دلغوى معناگانو څخه تعظيم او اجلال هم دى، الله پاک فرمايى: (وَأَنَّهُ تَعَالَىٰ جَدُّ رَبِّنَا)[5] ابن کثير ددې مبارک آيت په معنى کې وايى( جلاله وعظمته[6]) يعنى دپاک الله جلال او عظمت. دانس ابن مالک نه روايت دى: (کان الرجل منا إذا قرأ البقرة وآل عمران جد فينا)[7] (يعنى په موږ کې به چه چا هرکله دبقرې او آل عمران سورت ولوست دهغه قدر به زموږ په مينځ کې زيات شو) ابن قتيبة وايى: (أي جد في صدورنا وعظم في عيوننا)[8] (يعنى زموږ په زړونو او سترگو کې به هغه لوى شو) او دهمدې استعمال په اساس(بنسټ) به عربو ويل: (جدّ في عيون الناس) (يعنى دخلکو په سترگو کې لوى شو) کله به چه هغه دخلکو مشر شو.

---

3- عصام أحمد البشير، التجديد مفهومه وضوابطه وآفاقه في واقعنا المعاصر، التجديد في الفكر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلى مجلس د ديارلسم کال دغونډې څيړنې او پيښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه ) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوى مجلس) قاهرة 2002م، 936-937 مخ.

4- وگوره: سيف الدين عبدالفتاح إسماعيل، التجديد السياسي والواقع العربي المعاصر (اسلامى ليدلورى) دڅيړنو او تحقيقاتو مرکز ،داقتصاد اوسياسي علومو پوهنځى، دقاهري پوهنتون، دنهضت کتابخانه ، قاهرة، 1989، 4.مخ.

5- دالجن سورت 3 آيت.

6 - إسماعيل ابن کثير الدمشقي، تفسير القرآن العظيم, المصرية اللبنانية خپرنځاى, دقاهري مطبعه, دوهم چاپ 1990, 429/4.

7- أحمد په خپل مسند کې تخريج کړى: 11769 شميره حديث.

8- عبدالله بن مسلم ابن قتية الدينوري (ت 276هـ) غريب الحديث, دعلمى کتابونو خپرنځاى, بيروت, لبنان 1988م, 17.مخ

د تجدید له معناګانو څخه غنا (شتمني) هم ده، په ماثوره دعا کې راځی[9] (ولاينفع ذا الجد منك الجد)[10] (يعنی دهیڅ غني (شتمن)غنا هغه ته ګټه نه لری) (بلکه هغه ته ستا طاعت ګټه رسوی).[11] او د(تجدید) دمعناګانو نه اجتهاد او کوشش (زيار) دی، په عربی ژبه کې ویل کیږی: (جدّ في الأمر) ( يعنی کوشش یی وکړ) او همدارنګه تجدید دمبالغی په معنی هم استعمالیږی، ویل کیږی(محسن جدا) ( يعنی ډیر زیات محسن دی)[12] چه دلته (جدا) دمبالغی لپاره استعمال شوی دی. او دنصیب او برخې په معنی هم راغلی، ویل کیږی: (جدِدتُ بالشيء) (يعنی هغه مې په برخه شو)[13]. دوسطیت په معنی هم راغلی دی، ویل کیږی: (جادّة الطريق) ( يعنی دلیارې وسط(منځ).

ددې پورتنیو مطالبو په رڼا کې په لنډ ډول ویلای شو، چه تجدید دلغوي لحاظه یو له بل سره تړلې څو معناګانې افاده کوي: لومړی: تجدید شوی شی له ځایه وجود لري او خلکو لیدلی وی، دوهم: په هغه شی کې تغییرات او بدلونونه راغلي وي او یاهم زوړ شوی وي، دریم: هغه شی بیا هغه حالت ته راګرځول شوی وي کوم چه تر زوړ توب دمخه یې په هغه حالت باندی شتون درلود، څلورم: لومړني حالت ته بیرته را ګرځول یې پرلپسې هاند ته اړتیا لری، پنځم: هغه ځای ته د یوه څیز (شی) بیرته راګرځول، کوم چه په ابتداء کې په هغه حال باندې شتون درلود، دهغه شی او څیز اجلال، تقدیر، تعظیم او لوړتیا ده، لکه څنګه چه دا کار وسطیت او سمې لارې ته بیرته راوستل هم دی.[14]

**دوهم مبحث: په قرآن او سنت کې دتجدید کلمه:**

**الف: په قرآن کریم کې دتجدید کلمه:**

په قرآن کریم کې دتجدید کلمه نده راغلې خو د جدید کلمه په قرآن کریم کی د احیاء (بیا ژوندی کولو) او بیا دسره راګرځولو (اعاده کولو) په معنی راغلی ده، چه دتجدید دلغوی معنی سره پوره تطابق لری، پاک الله فرمایی: (أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ)[15] ابن کثیر ددې مبارک آیت په معنی کې وایی: ( کله چه د لومړی ځل لپاره پیدا کول را ته سخت(ستونزمن) نه وو، نو اعاده کول او بیا پیدا کول خو یې له هغه نه آسان دي).[16] او په همدې معنا باندې دا راتلونکې آیتونه هم دلالت کوي: پاک الله فرمایی: (وَقَالُوا أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَئِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا)[17] او فرمایی:

---

9- ناصر بن عبدالسيد المطرزي، المغرب في ترتيب المعرب، دالجيم مع الدال باب، د (ج د). کلمة.

10- بخاري په خپل صحيح کې تخريج کړی ، دالذکر بعد الصلاة باب، 799شميره حديث.

11- أحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، 92/1مخ.

12- أحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، 92/1.مخ

13- أحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي (ت770هـ)، المصباح المنير، 92/1مخ.

14- وګوری: محمد سعيد بسطامي، مفهوم تجديد الدين، لومړی چاپ، 1983م دالدعوة خپرنځای، کويت، :3مخ، و حليمة بوکريشة، معالم التجديد الفقهي (أنموذج الشوکاني) کتاب الأمة،90-91 ګڼه رجب-رمضان 1423هـ 22کال د قطر په هيواد کې د اوقافو او اسلامي چارو وزارت،:52- 53.مخونه او خالد عبدالله الشعيب، ضرورة التجديد وضوابطه في الفکر الإسلامي, التجديد في الفکر الإسلامي اوعبدالله بن محمد المالکي، التجديد حينما يفقد مساره، (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د ديرلسم کال دغونډې څيرنې او پيښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م، ص: 93-97,په لاندې لينک کې خپره شوې مقاله: http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

15- د ق سورت 15 آيت.

16- إسماعيل ابن کثير الدمشقي، تفسيرالقرآن العظيم 224/4..

17- دالإسراء سورت 49 آيت.

(وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَى رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ)[18] او فرمايي: (أَئِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ)[19].

**ب: تجديد په نبوی سنت کې:**

په صريح شکل (پريکنده ډول) سره دتجديد دکلمې نه مشتقه (اخيستل شوی) کلمه دابوهريرة رضی الله عنه په حديث کې راغلی ده، چه د درسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي او وايي: هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (إن الله يبعث لهذه الأمة على رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها)[20] ترجمه: (يقينا چه پاک الله دغه امت لره دهرو سلو کلونو په سر کې هغه څوک را ليږی چه دهغوی په دين کې تجديد راولی) يعنی ددين هغه معالم (نښې) ژوندې او نوې کوي کومې چه د زمانی په تيريدو سره له عمل او تطبيق څخه پاتې شوې او ياهم دخلکو دسترګو څخه پټ شوې او يايی خلکو په مفهوم کې انحراف راوستی وي او ياهم هغه سنتونه ژوندي او نوي کوي کوم چه د سم او صحيح تطبيق څخه پاتې شوي وي، او يايې په فهم او پوهه کې انحراف راغلی وي.

**دريم مبحث: دتجديد اصطلاحی معنی:**

علماو په مختلفو عباراتو سره دتجديد تعريف کړی دی، ځينو دهغه ديوې خوا تعريف کړی دی اوځينو هم دهغه دنورو اړخونو او تجديدی فعاليتونو تعريف کړی دی، خو دعلماو دتعريفونو څخه دا لاندې تعريف راته غوره او بشپړ ښکاری:

تجديد دهغه منهجی کوشش او زيار څخه عبارت دی چه دامت تمدنی خوځښت ته داسلام دصحيح فهم او دوحی دارزښتونو په رڼا کې دعصر غوښتنو ته دځواب ورکولو له لاری، لوری او توجه ورکوي او داستخلاف دوظيفې داداء کولو او دانسانی ټولنی دهراړخيزی آبادۍ خواته يی بيايی.[21]

ددغه تعريف دځانګړتياو دپوهيدو لپاره ددې لاندی مطالبو شرح کول ضروری او اړين بولم:

- **تجديد تکاملي حيثيت لري:** يعنی دژوندانه ټولی خواوی په غيږ کې نيسی او يوازې يواړخيزه صورت نه نيسی، او که چيرې په يوه خوا کې صورت ونيسی هغه ددين مقاصد په ټولنه کې په ښه ډول سره نه شی پوره کولی، که څه هم په ځينو ټولنو کې بعضی مجددين دټولنی ځينو اړخونو ته ډير لومړيتوب ورکوي، چه دا هم پخپل ځای دقدر وړ تجديدی کوښښ دی، خو دامت دهر اړخيز تمکين په هکله او ددين دعمومی مقاصدو دتطبيق او عملی کولو هدف او مقصد نشي ترلاسه کولای.

---

[18]- د سبأ سورت 7 آيت.

[19]- د السجدة سورت 10 آيت .

[20]- دا حديث أبوداود په خپل سنن کې په خپل سند سره تخريج کړي (4291 شميره حديث, كتاب الملاحم د مايذكر في قرن المائة باب) او وايي: حدثنا سليمان بن داود المهري: أخبرنا ابن وهب: أخبرني معيد بن أبي أيوب، عن شراحيل بن يزيد المعافري، عن أبی علقمة، عن أبی هريرة - فيما أعلم - عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ( إن الله يبعث . . الحديث ) ابو داود وايی: دا حديث علت نه لری. امام سيوطي هغه صحيح بللی او په "الجامع الصغير" کې يی ورته اشاره کړې ده ، همدارنګه دالجامع الصغير شارح علامة مناوي هم ددی حديث صحت تاييد کړی اويادونه يې کړې چې حاکم صحيح کړی اووايي: الزين العراقي اونور وايي: سنديې صحيح دي. او شيخ ألباني هم هغه دصحيحو احاديثو په سلسله 559شميره حديث کی راوړی دی، او په صحيح الجامع الصغير 1874 شميره حديث کې يی هم ورنه يادونه کړې ده. وګوره: يوسف القرضاوي، من أجل صحوة راشدة تجدد الدين وتنهض بالدنيا (د سنت په رڼا کې د دين تجديد) ومحمد ناصر الدين الألباني, سلسلة الأحاديث الصحيحة, : 559 شميره حديث. او داحديث دتجديد په هکله اساسی حديث دی.

[21] - سهيلة علاوة عظيمي, منهجية التجديد عند أبي الأعلى المودودي, دالنهضة خپرنځای2008م لومړي چاپ, دمشق, ص:24.

- **تجدید د تاریخ سره دتواصل حیثیت لری:** یعنی تجدید دتاریخي علمي میراث سره مقاطعه نه کوي، بلکه تجدیدی کوشش دتاریخي تجربې سره دتواصل او پیوسته کېدو په نتیجه کې مینځ ته راځی، د تاریخي میراث نه داستفادې او دهغی سره دامتزاج او تفاعل په نتیجه کې مینځ ته راځي، باید دا ذکر کړم چه هر هغه کوشش چه دتاریخي (علمي او عملي) تجربې نه دمقاطعې په نتیجه کې مینځ ته راغلی وي، هغه کوشش به جامع نه وی او نیمګړتیا به پکښی وي او دامت تمکېن به په جامع ډول سره تامین نه شي کړای.
- **تجدید د دین دثوابتو او دعصر دغوښتنو تر مینځ تفاعل او امتزاج دی:** یعنی تجدید داسلامی دین دمصدر او منبع (قرآن او سنت) څخه الهام اخلي، دزمانی دستونزو سره تماس نیسی، دشریعت داصولو، ثوابتو اوضوابطو په رڼا، دټولنې دمعاصرو واقعیتونو په پام کې نیولو سره ددی ستونزو دحل لپاره متوازن معیارونه ټاکې، دهغی دعملي کولو لپاره تګلارې جوړوی، جزئي احکامو ته دشریعت دعمومي مقاصدو سره تړاو ورکوي او یو جامع حل په پام کې نیسی، تر څو امت یو ځل بیا دتاریخ دجوړولو ساحې ته دننه کړی، او یاهم داسلام په تمدني خوځښت اوشتون باندې ټینګار وکړي.
- **تجدید د ماضی نه ښې راتلونکې ته ګذر دی:** یعنی تجدید دپخواني حالت نه ښه او بهتر حالت ته تیریدل او ګذر دی، تجدید دماضی او تیرې زمانې سره او دهغه دلاسته راوړنیو سره په ټپه دریدل او تم کیدل نه دي، او دهمدی مطلب په رڼا کی ویلای شو چه دتاریخ په اوږدو کې مجددینو دیوې سلسلې دکړیوپه شکل خپله وظیفه او دنده په پرله پسې ډول سره اداء کړې ده، دژوندانه په مختلفو خواوو کې یې مسلمانان سمې لارې ته متوجه کړي دي، داسلام دمبین دین د لاربښونو دسمې پوهې لپاره یې په مختلفو برخو کې زیار ایستلی، داسلامی ارزښتونو په رڼا کې یې دمسلمانانو د وروسته پاتې کېدو دمشکل دستونزو دحل لپاره لارې لټولې، اوپه نړۍ کې یې داسلامی امت د قیادت دحضور او ژوندی کولو لپاره هڅې کړې دي.[22]
- **تجدید په مخلوقاتو کې دالله تعالی سنت دی:** یعنی تجدید په ټولو مخلوقاتو کې دپاک الله سنت دی او انسانی ټولنې دهمدې سنت په رڼا کې خپل حالت ته تغییر ورکوي او په فطري ډول سره د خپلو ذاتي ځانګړتیاوو او ارزښتونو په چوکاټ کې دترقۍ او مثبت تحول بدلون لوری ته روان دي، له همدې کبله داسلامي امت تجدیدی پروسه هم په پرلپسې توګه دښه بدلون لوری ته مخ په وړاندې روانه ده، هغه داسی نه ده چه ګواکی تجربې کاپي کړي او یاهم دپخوانیو تجربو تقلید وکړي، او دا کار هغه وخت کېدای شي چه د امت تماس (اړیکه) دخپل لوړ مرجعیت (قرآن او سنت) سره پخه، ژوره او پدغه هکله یې پوهه دقیقه شي، په سمو ابجدیاتو هغه ولوستل شي، دتطبیق په هکله یې هم پوهه خپله کړای شی، تر څویې په رڼا کې وکولای شي دټولو تجاربو په هکله صائب او سم نظر ورکړي، او لدې لارې داسلامي ارزښتونو فعال، کارنده او ژوندی صلاحیت داوسنۍ ټولنې دښه جوړښت لپاره په علمي اوعملي ډول سره مطرح او ثابت کړي.[23]
- **تجدید منهجی، دقیق کوښښ او زیار دی:** یعنی تجدید یو مقطعي او انفعالي حرکت ندی، او نه هم انفعالي حرکت دټولنې حرکت ته مقصد وربخښلای شي، محمد البهي په دې هکله وایي: (تجدید فلسفه، افکار او تصورات دي چه

---

[22]- سهیلة علاوة عظیمي, منهجیة التجدید عند أبي الأعلی المودودي, دالنهضة خپرنځای 2008م لومړي چاپ, دمشق:26مخ.

[23]- سهیلة علاوة عظیمي, منهجیة التجدید عند أبي الأعلی المودودي, دالنهضة خپرنځای 2008م لومړي چاپ, دمشق:24.مخ.

دهغه تطبیق به دمنهجیت له لارې کېږي)[24] نو تجدید داسلامي امت په حالت کې مثبت تغییر راوستل دي چه دقیق پلان استراتیژي او برنامه غواړي، دمناسبو شرایطو آماده کول غواړی، دمعینو وسایلو چمتو کول غواړي، دمتناسبو اسالیبو په کار واچول غواړي او داټول باید داسلامي دین دلوړ مرجعیت( وحې) اودانسانی واقعیتونو ددرک او عمیقې پوهې سره څنګ تر څنګ الهام واخلی.[25]

**څلورم مبحث: دتجدید د تعریف په هکله د علماوو اقوال:**

دتیر شوی نبوی حدیث په رڼاکې، په کوم کې چه دتجدید دکوښښ په اړه ترغیب راغلی، علماوو د تجدید دمعنی په هکله لیکنې کړې دي، چه په مجموعی ډول سره علماوو په دې لیکنو کې دتجدید دمعنی مختلف اړخونه او جوانب بیان کړي دی، کوم چه په حدیث شریف کې هغه ته ترغیب صورت نیولی دی، چه ددوی عبارتونه زه دلته په لاندی ټکو کی را نقلوم:

امام أحمد بن حنبل رحمة الله علیه وایی: ( الله پاک دخلکو لپاره دهرو سلکو کلونو په سر کې هغه څوک رالیږی چه خلکو ته سنتونه او د دین لاربښونې وښیی، او درسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه هغه څه نفی کړی کوم چه په دروغو په هغه صلی الله علیه وسلم پوری تړل شوی، ګورو چه دسلو کلو په سر کې عمر بن عبدالعزیز وو او ددوهمې سلیزې په سر کې شافعی رحمة الله علیه)[26].

شیخ علقمي[27]وایی: (تجدید د هغه مفاهیمو او یاهم عملونو ژوندی کول دی کوم چه په کتاب او سنت کې په هغه باندی امر شوی وی، یا دعمل او تطبیق څخه پاتې وی، او یاهم دهغه کار کول پاتی وی چه هغه دکتاب او سنت داوامرو دغوښتنو او مقتضیاتو څخه وی، همدا رنګه تجدید دهغه بدعتونو او په دین کې نوو پیدا شوو امورو له مینځه وړل دي کوم چه په ټولنه کې مینځ ته راغلی وي)[28] دمجدد دوظیفې په هکله علقمی لیکي: ( مجدد هغه څوک دی چه هغه شرعي احکام ژوندی کوی، کوم چه دعمل نه پاتې شوي وي، او هغه سنتونه ژوندي کوي چه په ټولنه کې دعمل نه غایب شوی وی، او هغه ظاهري او باطني علوم بیانوی اوپه ګوته کوي، کوم چه دخلکو نه پټ پاتی شوي وي)[29] امام الوسی رحمة الله علیه وایی: (تجدید په کتاب او سنت باندی دعمل ژوندی کول دی او دهغه دغوښتنو او مقتضیاتو سره برابر عمل کول دی)[30] امام مناوي رحمة الله علیه[31] وایی: ( ددین دتجدید معنی داده چه سنت دبدعت نه بیل کړی، علم خپور کړی، داهل علم نصرت وکړی، او اهل بدعت پړ او ذلیل کړی)[32] ابن تیمیة رحمة الله علیه وایی: ( ددین په احکامو باندې دعمل نه کولو او دهغه

---

[24]- محمد البهي, الفكر الإسلامي الحديث وصلته بالاستعمار الغربي, دوهبة كتابخانه, القاهرة: 395 مخ.

[25]- سهیلة علاوة عظیمي, منهجیة التجدید عند أبي الأعلی المودودي, دالنهضة خپرنځای2008م لومړي چاپ, دمشق, ص:24.

[26]- محمد شمس الحق العظیم آبادي, عون المعبود شرح سنن أبي داود, كتاب الملاحم, د ما یذكر في قرن المائة باب: 4291 شمیره حدیث.

[27]- او هغه محمد بن عبدالرحمن بن علي بن أبي بكر العلقمي، شافعي مذهبه فقیه دی، په قاهره کی دعلمی کورنیو څخه دي، په حدیث باندې پوه، او دجلال الدین سیوطي له شاګردانو څخه ؤ، د مشهورو تالیفاتو څخه یې: الکوکب المنیر بشرح الجامع الصغیر، او په کال 969هـ کې وفات شو. وګوره: الاعلام، الزرکلي68/7.

[28] -محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر، دعلمی کتابونو خپرنځای،ط:1، 1994م، بیروت، لبنان، 14/1 .

[29]-محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر،14/1. و محمد شمس الحق العظیم آبادي، عون المعبود، دعلمی کتابونو خپرنځای بیروت 1415هـ 11/ 260. کتاب الملاحم، دما یذکر في قرن المائة باب.

[30] - شهاب الدین محمود بن عبدالله الحسیني الألوسي, روح المعاني 18/ 63.

[31]- هغه محمد بن عبدالرؤوف القاهري الشافعي دي، دتالیفاتو څخه یې فیض القدیر شرح الجامع الصغیر، وشرح الشمائل للترمذي دي، په کال 1031هـ وفات شو. وګوره: الزرکلي، الأعلام، 204/6.

[32]- محمد بن عبدالرؤوف المناوي، فیض القدیر، په مصر کې د کتابونو لوی تجارتي پلورنځای، 1356هـ، لومړی چاپ 281/2-282.

دمعطل کېدلو په وخت کې تجديد را مينځ ته کېږي او دا داسلام دغربت حالت دی)[33] هغه په بل ځای کې وايي: (دتجديد په نتيجه کې دمسلمانانو او مؤمنانو شعار ژوندی کېږي ترڅو چه د پخوانيومهاجرينو او انصارو په څير هغه ته عزت ور وبښي، او ځوک چه په اوسنۍ زمانه کې دا کار وکړی نو هغه په حقيقت کې دسابقينو اوپخوانيو دنيکو تابعينو څخه دی چه الله به ددوی نه راضي وي او دوی به دالله نه راضی وی)[34] علامه ابن القيم رحمة الله عليه دمفتيانو دډولونو په هکله وايي: ( يو له دوی څخه هغه عالم دی چه په کتاب، سنت او دصحابه په اقوالو باندې عالم او خبر وي، او دنويو حوادثو داحکامو په هکله مجتهد وي، په کومو کې چه کوښښ کوی تر څو يې په هکله دشرعی دلايلو سره برابره فتوا ورکړی او د هغه دا اجتهاد دا معنی نه لري چه هغه به کله هم دبل چا تقليد نه کوي....... دا راز مفيتان کولای شي خپله فتوی صادره کړي او ياهم ځوک ورنه فتوی وغواړی، او داجتهاد فرض په دوی باندې ساقطيږي او دوی هغه ځوک دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ددوی په هکله ويلی دی: الله پاک دغه امت ته دهرو سلو کلونو په سر کې هغه ځوک راليږی چه دهغوی په دين کې تجديد وکړی).[35] امام سيوطی رحمة الله عليه دتجديد دحديث دشرحی په سياق (لړ) کې وايي: (دحديث شريف نه داسی نه لازميږی (جوتيږي) چه دهرو سلو کلونو په سر کې راليږل شوی کس دی يو نفر وی، بلکه هغه کېدای شی يو نفر وی او کېدای شی چه هغوی ډير کسان وی، که څه هم دفقهاو څخه دامت ګټه اخيستل ددين په امور (چارو)کې عام او ګتور دی، او دنورو خلکو څخه هم دامت ګټه اخيستل مهم او ارزښتناک دی، لکه اولی الامر او دټولنې نور خلک، دهر چا څخه په داسې مورد کې ګټه اخيستل کېږی چه دبل چا څخه نه اخيستل کېږی، داولی الامر څخه دعدل او انصاف په تامينولو، دوينو دساتلو او شرعی قوانينو دتطبيق لپاره ګټه اخيستل کيږی) همدارنګه امام سيوطی رحمة الله عليه وايي: ( ددين دتجديد معنی داده، چه دهغه هدايت او لارښوونه تجديد شي دهغه حقيقت او احقيت تجديد شي، دهغه نه بدعتونه او زيات والی لری کړای شي، دشرعي احکامو دتطبيق په هکله سست والی له مينځه ولاړ شي، د شريعت په احکامو کې دخلکو دمنافعو، ګټو او مصالحو، دټولنې دآبادی په هکله دسنتونو او قوانينو رعايت وشي)[36] علامه يوسف قرضاوی وايي: ( ديو ځيز(شی) تجديد له هغه کوښښ نه عبارت دی چه هغه ځيز(شی) هغه حالت ته راواړوی کوم چه په ابتداء کې هغسی ؤ، او هغه دترميم او تقويت دزيار په نتيجه کې داسی حالت ته راوواړی چه د تاريخي قدامت او سابقی سره سره نوی ښکاره شی، ته به وايي چه دا همغه لومړنی شکل او صورت دی....... نو دتجديد معنی دقديمی ځيز (شی) تبديلول نه دی، او نه هم تجديد دپخوانی ځيز دتعويضولو معنی لري، تبديل او تعويض دتجديد دمعنی سره هيڅ علاقه او تړاو نه لری).[37] محمد سعيد رمضان البوطي چه دسوريی دمعتبرو علماو څخه دی وايي: (دهغه کسانو عمل چه الله پاک يی ددين دتجديد لپاره راليږی په دی کې خلاصه کېږی چه خلک دالله فرمانبرداری ته راوبولی، دالله پاک دهدايت او احکامو پابندی ته يی راوبولی، وروسته له هغه چه هغوی دالله پاک دين ته شا اړولی وه، او دهغه امورو (چارو) اصلاح ته دعوت وکړی کوم چه د وخت په تيريدو سره له کاره لويدلی وي، او يا يې ستنې سستی شوې وي، او ياهم دمفاهيموپه هکله نيمګړتياوې را مينځ ته شوې

[33] - أحمد بن عبدالحليم ابن تيمية، مجموع الفتاوى 18/296-297.

[34] - أحمد بن عبدالحليم ابن تيمية، مجموع الفتاوى، 28/ 420.

[35] - محمد ابن أبي بكر ابن قيم الجوزية (751هـ)أعلام الموقعين عن رب العالمين، دالجيل خپرنځای، بيروت 1973م، 4/212.

[36] - جلال الدين السيوطي، الجامع الصغير، نقلا عن عدنان محمد أمامة، التجديد في الفكر الإسلامي، لومړی چاپ 1424هـ، دابن الجوزي خپرنځای، ص: 17.

[37] - يوسف القرضاوي، تجديد الدين في ضوء السنة، دمرکز بحوث السنة والسيرة، مجله۲ګڼه، 1987م، دقطرپوهنتون:29پاڼه. اوهمدا راز وګوره: يوسف القرضاوي, الفقه الإسلامي بين الأصالة والتجديد, دوهبة کتابخانه, 1999م لومړی چاپ, ص:28.

وي، دنوو پیښو او حوادثو لپاره دفقهي ضوابطو او اصولي قواعدو په رڼا کې شرعي احکام استخراج کړي، پرته له دې چه په هغه باندې لوبې وکړي، او یاهم په هغه کی دهوا او هوس غوښتنې ومني)[38] امام أبو الأعلى المودودي رحمة الله عليه دمجدد دتعریف په هکله داسې لیکی: (مجدد هغه څوک دی چه ددین معالم او نښانې خلکو ته دتشویه او انحراف نه وروسته روښانه او واضح کړي، او دخلکو رابطه ددین سره تر غوځیدو وروسته ټینګه کړی..... او تجدید په حقیقت کې دجاهلیت دټولو اجزاو څخه داسلام پاکول، او بیا دامکان په اندازه سره دهغه په خالص شکل سره ژوندی کول دی)[39] امام مودودی دتجدید په تعریف کې دیته اشاره کوی چه تجدید ددین دنښانو اومعالمو دتشویه نه وروسته صورت نیسی، چه مطلب یی دادی چه تجدید ددین دهغه معالمود روښانه کولو په مورد کې صورت نیسی کوم چه دخلکو دانظارو اوسترګوونه پټ شوی وي، او همدارنګه په تعریف کې وایی چه تجدید دخلکو رابطه له دین سره وروسته له غوځیدو ټینګوی، او ددې معنی داده چه تجدید دخلکو او دین تر مینځ درابطې په هکله مینځ ته راځي، نه خپله ددین په اړه کوم چه ثابت دی او تغییر پکې نه راځی، او دا رابطه دخلکو چه په حبل الله ورنه تعبیر کېږی په دین باندی دخلکو دتمسک اوټینګار وسیله او لاره ده لکه ددین شعایراو مناسک...... امام مودودی په بل ځای کې داسې وایی: ( تجدید په حقیقت کې دجاهلیت له ټولو چټلیو څخه داسلام دمبارک دین دپاکولو څخه عبارت دی تر څو چه خالص، پاک او دلمر په شان داسی وځلیږی چه هیڅ نوع غبار او وریبځ ورباندی نه وي)[40] شیخ محمد غزالی رحمة الله علیه وایی: داسلام تجدید دهغه دعلومو دژوندی کولو څخه عبارت دی چه حقیقت هغسی څرګند شی لکه څنګه چه الله پاک نازل کړی دی....... داسلام تجدید داسلام او دژوندانه دقافلې تر مینځ درابطی ټینګول دی، نه داسی چه په قافله پسی لاړ شی بلکه داسی چه دژوندانه دقافلی دتګ سرپرستی وکړی او دهغه تګ لاره او توجهات وټاکې..... داسلام تجدید دهمتونو دساتلو او لوړولو څخه عبارت دی چه دښمنانو ته مناسب ځواب ورکړی اواسلام ته دقوت شکل وروبښی، او دژوندانه غریزه په زامنو کې راژوندی کړی، تر څو چه ضعف او کمزوری ورته لاره پیدا نه کړی، چه ددوی دکمزوری په سبب دوحی حقیقتونه کمزوری نه شی، او داسلام تجدید ددین نقل کول هغه ځای ته ندی کوم چه خلک یی غواړی بلکه دخلکو نقل کول هغه ځای ته دی چه الله پاک یی غواړی او په هغه یی رضا ده)[41] او دخپلو خبرو په ادامه کې وایی: ( داسلامی امت علماو د تجدید دنده په غاړه اخیستی ده او په هغه باندې بوخت وو او پدې ورځو کې موږ هم په هغه باندې بوخت یوو، او هغه ته داسی متوجه یو څرنګه چه دوی ورته متوجه وو، او هغه شیانو زموږ توجه را جلب کړی ده، کوم چه له دوی څخه ورسته نوي پیدا شوي دي.)[42] دکتور حسن عبدالله ترابی وایی: (لکه څنګه چه دالله پاک تقدیر په دې باندې تیر شوی چه پخواني شرایع تجدید شي او دا تجدید د تاریخ په اوږدو کې دوحې په واسطه صورت پیدا کاوه او دهغه دتبلیغ او رسولو له کبله پیغمبران را لیږل کېدل، کوم چه دهغوی سلسله درسول اکرم صلی الله علیه وسلم په راتلو سره پای ته ورسیده، دالله پاک تقدیر بیا داسې وه چه دخاتم شریعت تجدید دتجدید دامامانو او دتجدید دحرکتونو په غاړه واچوي, او لکه څنګه چه دپخوانیو شریعتونو اصول ثابت وو او یو په بل پسی پیغمبرانو

---

38- محمد سعید رمضان البوطي، الإسلام بين التجديد المطلوب والتبديل المرفوض، التجديد في الفكر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه ) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م ص:164.

[39]- أبو الأعلى المودودي، موجز تاريخ تجديد الدين، دالفکرخپرنځای، ط: 3، 1968م، بيروت، لبنان، ص:13.

[40]- أبو الأعلى المودودي، موجز تاريخ تجديد الدين وإحيائه (واقع المسلمين وسبيل النهوض بهم) دالرسالة موسسه, 1975م, 12مخ.

[41] - محمد الغزالي, كيف نفهم الإسلام, دنهضة مصر خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزیع لپاره, القاهرة, څلورم چاپ 2006, 127.مخ.

[42]- محمد الغزالي, كيف نفهم الإسلام, دنهضة مصر خپرنځای دچاپ, نشر اوتوزیع لپاره, القاهرة, څلورم چاپ 2006, 127مخ.

هغه ژوندي کول، اما بیا په خپل مینځ کې دهغو شریعتونو تر مینځ په ځینو احکامو کی توپیر را مینځ ته کېده، تر څو دخپلی زمانی واقعیتونو او غوښتنو ته دثابتو اصولو په رڼا کې ځواب ورکړی، همدارنګه خاتمه شریعت هم ثابت اصول لری او کله هم چه هغه دمسلمانانو تر مینځ له عمل او تطبیق څخه پاتې شي او یا هیر کړی شي نومجددین هغه ژوندي کوي، او همدارنګه ځینی نرم اصول هم لري چه هغه دوی ته دټولنی دواقعیتونو سره دتکیف او ورته والی فرصت ورکوی او مجددین په هغه کې کولای شی حرکت وکړی، او لکه څرنګه چه د شرعی پیغام تجدید په پخوانیو رسالتونو کې د واحد دین په اصولو کې تغییر نه راوستلو، همدارنګه دخاتمه رسالت په شریعت کې تجدید دجامعې دجوړولو په مختلفو مرحلو کې (دتنزیل او تشریع په عهد کې) تبدیل نه شمیرل کېده، نو لدی کبله ددینی تعبیر صورتونه دمادي او اجتماعي پرمختګونو درعایت لپاره سره ددې چه خپل ثابت اصول وساتي، دټولنې او زمانې دغوښتنو او د واحد دین تر مینځ دتړاو او تماس مبرم ضرورت دی)[43] محمود حمدي زقزوق دمصر پخوانی د أوقافو وزیر داسی لیکې: مطلوبه تجدید دادی چه ددین ثوابت وساتل شي خو په عین وخت کې په هره زمانه، وخت او هر ځای کې باید ددین دفعلي تطبیق صلاحیت ثابت کړای شي او دهغه ژوندیتوب تامین کړای شي. او په بل ځاي کې لیکې: مطلوبه تجدید دا معنی لري چه دعصر په وسله او دټولنې دنوو تغییراتو څخه په منور فهم باندې داسې سمبال وی چه له یوې خوا دمسلمانانو ژوند ته داسې رنګ ورکړي چه دتغییراتو سره مناسب وي، او له بلی خوا داسلامي دین حیویت او ژوندیتوب وساتي، او په دریم قدم کې مسلمانانو ته دپرمختګ او تاریخ دجوړولو لپاره لاره خلاصه کړی.[44]

عمر عبید حسنة وایی: ( دتجدید څخه، لغو کول، تبدیلول او یاهم دشرعی څخه تیریدل مطلب نه دی، بلکې دهغه څخه مطلب دنص نه درست او نوی فهم ترلاسه کول دی، هغسی فهم چه مسلمان دخپل عصر او زمانی دمشکلاتو اوستونزو دحل او معالجی په اړه داسی رهنمایی او توجیه کړی، چه دمشکلاتو لپاره د وحې دهدایتونو په رڼا کې حل لاری استنباط کړای شی)[45]

دپورته علماوو په تعریفونو کې دغور نه وروسته دا ویلای شو چه تجدید په لاندې امورو او چارو باندې صدق پیدا کولای شی:

**لومړی:**

**دتدین تجدید:** د تدین تجدید ددین سره دمسلمان په رابطه کې تجدید دی، او ددې معنی ددین صحیح او سمه پوهه ژوندي کول دي، او بیا په هغه باندې عمل کول او دهغه دعملي کولو لپاره عملي لارې او برنامې جوړول دی، دمسلمان فرد په ژوندانه کې په هغه عمل کول دی، دټولنی په عمومي ساحه کې ددین ژوندي کول دی، بیا هغه ددین په مقاصدو پورې تړل دی او دټولنې حرکت ته دشرعي مقاصدو په رڼا کې توجه او هدف ورکول دی، دټولو انحرافی تصوراتو د انحراف او غلطی بیانول دی او بیا دهغه تصوراتو سم جوړول دی، کوم چه ددین دپوهې په برخه کې وجود لري او یاهم الله پاک ته دتقرب دساحاتو او مجالونو په خواکې وجود لری، که څه هم دا دعقیدې او دبدعتونو دانتشار په برخه کې وی، او یاهم دا

---

43- حسن عبدالله الترابي, تجدید الفکر الإسلامي، د السعودیة خپرنځای دنشر اوتوزیع لپاره، دوهم چاپ 1987م 132مخ.

44- محمود حمدي زقزوق, التجدید في الفکر الإسلامي ( په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې ثیرنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م ) 4 او5مخ

45 - عمر عبید حسنة، الاجتهاد والتجدید سبیل الوراثة الحضاریة، لومړی چاپ، 1998م، المکتب الاسلامی: 20مخ

انحراف دټولنی دافرادو په سلوکي اړخ کې وی، او یاهم دا انحراف دمسلماني ټولنې په اجتماعي، اقتصادي او سیاسي ژندانه کې وي چه دټولنې دا اړخونه داسلامي شریعت داحکامو او مقاصدو څخه بهر ترتیب او تنظیم شوي وي، نو دلته تجدیدی کوشش دا دی چه دمسلمانانو اړیکه ددین سره سمه کړای شي، فرد اوټولنه دواړه دالله تعالی ددین دغوښتنو سره سم حرکت وکړي، او مجدد هغه څوک دی چه ددې حرکت لپاره لاره برابروی، دفهم په لحاظ دخلکو قناعتونه برابروي، هغه ته دعوت کوی او یاهم په عملي ساحه او ډګر کې ددین دارزښتونو دپوره تطبیق لپاره پلان جوړوی، خلک دهغه دحکمتونو او فوایدو نه خبروی او خلک دهغې عملي کولو ته تشویقوي اوهڅوي.

دوهم:

**دحوادثو او نوازلو دشرعی احکامو پیژندل:** په ټولنه کې ډیر داسې حوادث مینځ ته راځي چه پخوانیو علماو په هغه کې خبره نه وي کړې، هغه حادثه اوس مینځ ته راغلې وي، او یاهم ځینې مسایل مینځ ته راغلي وي چه پخوانیو علماو په هغه کې خبره کړی وی اما اوس شرایطو او وضعیت تغییر موندلی وي او هغه پخوانۍ فتوی یوځل بیا کتنی ته ضرورت ولری، چه آیا هغه فتوی په دې عصر کې هم ددین د نصوصو اومقاصدو په رڼا کې سمه فتوی ده؟ او آیا دخلکو ګټې دشریعت په چوکاټ تامینوي؟[46]

**دریم:**

**دشرعي احکامو تطبیقي صیاغت:** یعنې د شرعي احکامو داسې صیاغت وشي چه په ټولنه کې دموجوده مؤسساتي ظرفیتونو له لارې دتطبیق زمینه ورته جوړه شي، دا ځکه چه دشرعي احکامو یوازې بیانول کفایت نه کوي بلکه ددې تر خوا شرعي احکام دیته ضرورت لري چه دهغه تشریعي صیاغت داسې وشی چه په ټولنه کې دسیاسي، اقتصادي او اجتماعي چوکاټونو له لارې دتطبیق فرصت ترلاسه کړي، او له دې لارې ټولنه داسلام په رڼا کې هراړخیزه ترقي او پرمختګ وکړي او اسلامي امت هغه برم، مقام او حیثیت ترلاسه کړی کوم چه داسلامی دین دهراړخیز تطبیق دغیاب په نتیجه کې یې له لاسه ورکړی.

دتجدید دا پورته په دریو ټکو کې معنی کله چه عملي بڼه غوره کړي، عملي کوونکی یې دحق دټولګی هغه تمثیل کوونکی دی کوم چه په نبوی احادیثو کې یې وصف داسې راغلی دی: هغه کسان چه دقیامت تروړځې پورې پر حق تمسک کوي، ددین شعایر او ارزښتونه ژوندي کوي، هغه دهر ډول تحریف نه ژغوري، هغه دین نه پریږدی چه دجمود په اړخ تکیه وکړی، تر څو دجمود او انحراف په نتیجه کې بیا دین دټولنې دسمې جوړولو اوټولنې ته درنګ ورکولو دوظیفی څخه شاته پاتې نه شي، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: (لا تزال طائفة من أمتي ظاهرين حتى يأتي أمر الله وهم ظاهرون)[47] او بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (يرث هذا العلم من كل خلفٍ عدوله، ينفون عنه تأويل الجاهلين،

---

46- په لاندې لینک باندې دمحمد مسعد یاقوت تجدید الدين (المعنى و التأصيل الشرعي) خپره شوې څېړنه :

http://www.daawa-info.net/mosharakat.php?id=58

اووګوره: أحمد بو عود، الاجتهاد بين حقائق التاريخ ومتطلبات الواقع، دالسلام خپرنځای دچاپ، نشر اوتوزیع لپاره، القاهرة، 2005 لومړی چاپ، 10 مخ.

47- بخاری په خپل صحیح کې تخریج کړی، كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، دقول النبي صلى الله عليه وسلم لا تزال طائفة من أمتي ظاهرين على الحق باب، 6881 شمیره حدیث.

وانتحال المبطلين، وتحريف الغالين)[48] اوبل حيث کې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (لا يزال الله يغرس في هذا الدين بغرسٍ يستعملهم في طاعته).[49]

دتاريخ په اوږدو کې دعلماو تجديدي کوششونو(هڅو) دهمدې پورته مفهوم په تطابق کې صورت نيولی، او په دی ځاي کې دپورته مطلبونو دتاييد په خاطر دامام مالک رحمة الله عليه قول بايد ذکر کړو چه فرمايي: (ددې امت آخر به په هغه څه صلاح مومی په کوم چه ددې امت اوايلو صلاح موندلی ده، او کوم شی چه په پيل کې دين نه ؤ، نن ورځ به هم هغه دين نه وي)[50] او دعلماو په نظردا پورته مطلب دتجديد لپاره صحيح او درست منهج دی او دامت د په پښو دريدو لپاره او دامت دنهضت لپاره درسته تګلاره ده، دتاريخ په اوږدو کې چه دمجددينو کوششونو اوهڅو ته وګورو هغه ټول په دی پورته ذکر شويو ساحو، مجالاتو او ډګرونو کې راټوليدای شی، حسن بصری رحمة الله عليه هغه مجدد ؤ ، چه ديني شعور، احساس او ضمير(وجدان) يی په عامو خلکو کې ژوندي کړ، عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه دسياست په ډګر کې مجدد ؤ، امام شافعی رحمة الله عليه داستدلال او علمی منهج په ساحه کې مجدد ؤ، ابن تيميه رحمة الله عليه ددرست ديني تصور دارزونې او دفلسفی منحرفو ډلو دتصوراتو د ردولو په ساحه کې مجدد ؤ، محمد بن عبدالوهاب دمنحرفو خرافاتو دې له مينځه وړلو په ساحه کې مجدد ؤ، سيد جمال الدين افغانی او محمد عبده اوشهيد حسن البناء داسلامی جامع (بشپړ) او هراړخيزه تصور دوړاندې کېدو مجددين وو ، او دا هغه دعلماوو سلسله ده، چه په شرعي مفهوم سره يې دتجديد د دندې داداء کولو په هکله کوششونه (هڅې) کړې دي، چه هر يو يې دخپلې زمانې او ځاي غوښتنې، مشکلات او ستونزې رعايت کړې دي او په پام کې يې نيولی دي.[51]

پدې پورته ټولو تعريفونو کې دا مطلب کتل کيږی چه هغه کوششونه او هڅې چه لويديځ فرهنګ يې په دغه هکله تر سره کوي، او غواړی خلک تر خپل فرهنګي اغيزی لاندې راولي، ددين داصلاح ترعنوان لاندې دلويديځ فرهنګ لپاره دنفوذ لارې برابرې کړي، دا ډول فعاليتونه (کړنې) او زيارونه په شرعي تجديد کې نه شي شامليدای، بلکه هغه په حقيقت کې ددين دتحريف لپاره بل تلاش اوزيار دی چه مجددين بايد دهغې مخنيوی وکړی، او پرينږدی چه ددوی هڅې دشرعي تجديد کوششونه د بيلاری لوری ته بوزی او يا يې دخپل خط او لوري نه کاږه کړی. محمد الغزالي رحمة الله عليه په دې اړه داسې وايي: (هرهغه کوشش چه اسلامی ارزښتونه يو دبل نه بيلوی، يودبل سره يی بې رابطی کوی، هغه ته نادرست ميل ورکوی، په هغه کې انحراف رامينځ ته کوی، په هغه کې هغه څه داخلول غواړي چه داسلام څخه نه وي او اسلامی ارزښتونه بلی خواته بيول غواړی، په حقيقت کې دا د اسلامی منهج نه بې لارې کيدل او وتل دي، په الله پاک باندی افتراء کول دي، په حق باندې حمله او تيری دی، دهيچا څخه دا خبره دقبلولو او منلو وړ نه ده، چه ووايي: ددې نص دتطبيق وخت تير شوی، يا ددې حکم دتطبيق وخت اوس نه دی، او يا نړۍ تر داسې کچې ترقي کړې، چه دا احکام بايد پريښودل شي، اويا هم دا تشريعات معطل کړای شي، په حقيقت کې دارنګه کوششونه ټول داسلام د ورانولو په خاطر او دجاهليت دبيرته را ګرځولو په

---

[48]- أبوعمر يوسف بن عبدالله بن عبدالبر النمري القرطبي رانقل کړی( 463هـ) التمهيد، په المغرب کې داوقافو او اسلامي چارو وزارت، 1387هـ، 59/1، او مناوي په فيض القدير را نقل کړی 396/6.

[49]- ابن ماجه پخپل سنن کې تخريج کړی ، داتباع سنة النبي صلى الله عليه وسلم باب، 8 شميره حديث.

[50] عبدالرحمن بن حماد، الارشاد الى توحيد رب العباد، دار العاصمة، الرياض، ص: ۱۲۰.

[51]- په لاندې لينک باندې دعبدالله بن محمد المالکي، التجديد حينما يفقد مساره، خپره شوې مقاله:
http://www.alqlm.com/index.cfm?method=home.con&contentid=220

خاطر دي...... تجديد په دين کې ددې ډوله منکراتو او تيروتنو مرتکب کېدل نه دي، دسلفو او خلفو دعلماو دهيڅا فهم داسې نه ؤ، چه تجديد دبدعتونو دژوندي کولو په معنی وي، دهوا او هوس تابعداری دی تجديد وبلل شي، په شرعی نصوصو او اصولو باندې لوبو کولو ته دې تجديد وويل شي. خو له بدمرغه په دې ورځو کې داسې خلک پيدا شوي چه ددين دتطور په هکله خبرې کوي او دامکاناتو په هکله يې فکر کوی، تر څو دين داوسنی عصر دغوښتنو سره ملايم او برابر کړي).[52]

او دهمدې پورته مطلبونو دتاکيد او پوهاوی لپاره دتجديد تر عنوان لاندې په مصر کې داسلامی چارو او اوقاف دوزارت له خوا په قاهره کې يو کنفرانس داير شوی ؤ چه په هغه کې داسلامی نړی ګڼ شمير علماوو شرکت کړی ؤ، په ختامي بيان کې يی لاندې ټکي راغلي دي:

- تجديد په هيڅ ډول دعقيدی او عباداتو دثوابتو او اصولو سره تماس نه شي نيولی او نه پکې تجديد راتلای شي، او نه هم په هغه قطعی او پريکنده احکامو کې تجديد صورت نيولی شی چه په کتاب او سنت کې په قطعی او پريکنده ډول سره راغلي دي، بلکه دتجديد معنی داده چه فکر اوعقل بايد دمعاصرو او اوسنی ژوندانه دمشکلاتو اوستونزو د حل په هکله پکار واچول شي، او دهغی لپاره دشرعي دلايلوپه رڼا کې مناسب او حل کوونکي احکام استنباط شي، نو لدې کبله هيڅ د ويری ځاي نشته له دې څخه چه تجديد به اسلام ته دپرديو افکارو د راداخليدو لاره هواره کړي، يا به د تجديد تر عنوان لاندې داسې احکام رامينځ ته شي چه دشرعي مقاصدو سره متناقض وي، بلکې دتجديد معنی داده چه هغه دتطبيق نه پاتې شرعي احکام دشرعي اجتهاد له لارې داسې ژوندي شي چه دشريعت ثوابت او اصول په هغه کې رعايت شي او مسلمانان په هغه باندې عمل کولو او دهغه دمقتضياتو پوره کولو ته دعوت شي.
- په دې باندې تاکيد اوټينګار دی چه تجديد په اسلامي ثابتو اصولو باندې ولاړ دی، او درسول اکرم صلی الله عليه وسلم د دغه حديث په بنسټ صورت نيسي چه فرمايي: (إن الله يبعث لهذه الأمة على رأس كل مائة سنة من يجدد لها دينها) او دا پدې معنی ده، چه تجديد دشريعت دحيويت دژونديتوب او مؤثريت اواغيزمنتيا او د هری زمانی او مکان لپاره دهغه دصلاحيت دتامين لپاره يو اړين او ضروری عمل دی، او دا هغه فهم او پوهاوی ده چه د شريعت امامانو لکه امام شافعی او شاطبی او ابن القيم..... په دې هکله له شريعت څخه درلوده او په خپلو کتابونو کې يې دا مطلب درج کړي دی او په خپل ژوندانه کې يې دهغه لپاره کار کړی دی.
- په دې يې تاکيد او ټينګار کړی دی، چه تجديد د پخوانيو مجتهدينوکوششونه اوهڅې باطلې نه ګڼي، بلکه دهغه په پام کې نيول، داوسنی عصر دمشکلاتو اوستونزو دمناسب حل په اړه او دشرعي حکمونو داستخراج په برخه کې ضروري بولي، خو بې لدې چه يوه فقهي رايه او يو معين مذهب ته ځان مقيد وبولی، اوهمدارنګه د علماو داجتهاداتو نه دهغه مسايلو داحکامو داستنباط په اړه استرشاد او استفاده وکړی کوم چه علماو دهغه په اړه بحث نه دی کړی، او يايې هم فتوی نده ورکړې، او داټول بايد دټولنيز اجتهاد په چوکاټ کې وشی کوم چه دفقهی مجامعو او ټولنو په انګړ کې په اسلامي ملکونو کې تر سره کيږی، او بيا داولی الامر او ياهم تقنيني مجالسو له خوا دتشريع او قانون حيثيت نيسي.[53]

---

[52]- محمد الغزالي، كيف نفهم الإسلام، 183مخ.

[53] - د التجديد في الفكر الإسلامي د کنفرانس سپارښتنې(په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د ديرلسم کال دغونډې څيرنې او پيښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه ) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م 1258-1262مخ.

- دتجدید څخه مراد او مطلب د بنده او الله تعالی ترمینځ درابطی تجدیدول او نوي کول دي، هغه ددین سره دټولنې درابطې تجدیدول هم دي، دتجدید مفهوم ددین دحقیقت تجدیدول ندی کوم چه ثابت دی او بدلون نه مومی، او ددې مطلب بیان دا ایجاوبي چه ددین دکلمې سره په درایت او دقت سره ودرېږو, دین د دینونیت (دینولی) نه اخیستل شوی چه برحق معبود ته د مطلق خضوع معنی افاده کوي چه هغه الله پاک دی، نو دین او دینونیت (دینولي) دانسان وصف دی او تجدید په هغه باندې مسلط دی، نه هغه ثابتې مبادئ او ارزښتونه چه الله پاک نازلی کړي دي، نو د مجددینو کار دادی چه خلک دالله پاک فرمانبرداری ته راوبولي، په هغې باندې یې انضباط ته راوبولي، دمفاهیمو په هکله چه څه مشکلات اوستونزې دخلکو په مینځ کې وجود ولري او یاهم ددین څخه ځینې خلک ناسم برداشت او فهم ولري باید هغه په سم او واضح ډول سره بیان کړي، دهغه نوو حوادثو لپاره چه په ټولنه کې مینځ ته راځي او پخوانیو علماوو په هغه کې خبره نه وی کړې شرعي احکام دشریعت دنصوصو او مقصدونو سره په همغږی او دخلکو دضرورتونو په رعایت سره استنباط کړي، په هغه کې دهوا او هوس غوښتنو ته غاړه کېنږدي. او له دې کبله دی ، چه په حدیث شریف کې تجدید دامت په دین کې راغلی (یجدد لها دینها) نه ددین په امر باندی چه هغه ددین مبادئ ارزښتونه او احکام دی، کوم چه ځینی خلک هغه په غلط شکل سره روایت کوی(یجدد لها امر دینها) چه هغه هم دروایت له خوا درست نه دی، ځکه چه ټول روایات(من یجدد لها دینها) په لفظ سره راغلی دی، او ددرایت له خوا هم تسلط دتجدید په حدیث شریف کې ددین په امر باندی ندی بلکه په دین باندی دی، او دا ځکه چه بیا دحدیث معنی سمه او درسته نه راځی، ځکه ددین دامر معنی ددین داحکامو او مبادئو څخه بل څه نه دی، اما ددین احکام خو هر وخت جدید دی که څه هم په هغه باندی قرنونه پیړی او زیات زمان تیر شی، نو بیا به دتجدید معنی په احکامو او مبادئو کې تنها دتبدیل او تغییر په معنی وی او دهغه نه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی کړی ده.[54]

شیخ یوسف قرضاوي حفظه الله هم پدې هکله وایی چه مجدد ( داول دال په فتحه سره) دهغه شی معنی ورکوي کوم چه په هغه کې تجدید صورت نیسی په حدیث شریف کې دین دی او یاهم دهغه په ځای اسلام، او کله هم چه دا کلمه یوازې او بیله ذکر شي نو یوه له دغو معناګانو نه ورڅخه مراد کیدای شی:

**اوله معنی:** هغه منهج چه الله پاک دخپل رسول په واسطه خلکو ته رالیږلی، چه په هغه کې عقاید، عبادتونه، اخلاق او نور شعایر شامل دی چه الله پاک دهغې په وسیله دانسان تړاو دپروردګار سره تنظیموی او یاهم دبندګانو رابطه دهغی په واسطه یودبل سره تنظیموی چه علامه ابن خلدون دهغه څخه داسې تعبیر کوی: ( دین هغه الهی وضع ده ،چه بشر په خپل اختیار سره هغی خواته بیایی په کوم کې چه دبشر ددنیا او آخرت منفعت او ګټه ده) او دین په دی معنی او دهغه داصولو او مبادئو په پام کې نیولو سره ثابت دی او دهیڅ نوع تغییر قابلیت پکې نشته.

**دوهمه معنی:** دین عبارت له هغه حالت څخه دی چه انسان یی دالله پاک سره دفکر، شعور، احساس، عمل او اخلاقو په ساحه او ډګر کې لری، او پدې هکله خلک وایی چه دفلاني دین ضعیف دی، او یاهم دین یې قوي دی، او دین په دی معنی کمیږی او زیاتیږی، صفایی پیدا کوی او یاهم دکدورت سره مخ کیږی، او هغه دانسان د پوهاوي او انسان دایمان په تناسب

---

[54]- محمد سعید رمضان البوطي، الإسلام بین التجدید المطلوب والتبدیل المرفوض, التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې ځیړنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوؤارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م (: 163-164مخ.

او کچه کارته او یاهم پورته کیږی او دا هغه معنی ده چه تجدید قبلوی، او له همدې کبله ده چه په حدیث کې دین امت ته مضاف شوی او هغه ته نسبت ورکړای شوی دی: (لیجدد لها دینها) او پدی حدیث شریف کې دین الله پاک ته ندی منسوب شوی بلکه امت ته منسوب شوی دی، نو دلته تجدید دامت په دین باندی واقع کیږی ځکه چه په حدیث شریف کې امت ته منسوب شوی دی نه هم دالله دین ته[55]. او ددی مطلب دتایید په برخه کې ډیر نور احادیث هم راغلی دی، بالخصوص هغه احادیث چه تجدید دایمان دژوندی کیدو په معنی باندې اخلي[56]، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (إن الإيمان يخلق في جوف أحدكم كما يخلق الثوب، فاسألوا الله تعالى أن يجدد الإيمان في قلوبكم)[57] ترجمه: یقیننا چه ایمان ستاسی په داخل کې داسی زړیږی لکه څرنگه چه جامې زړیږي، دالله نه وغواړی چه ایمان ستاسې په زړونو کې تجدید کړي. بل ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (جددوا إيمانكم، قيل يا رسول الله وكيف نجدد إيماننا؟ قال: أكثروا من قول لا إله إلا الله)[58] ترجمه: خپل ایمان تجدید کړی، ورته وویل شول چه څرنگه خپل ایمان تجدید کړو؟ هغه وفرمایل: دلا اله الا الله کلمه ډیره ځل ووایاست.

په سعودی عربستان کې دافتاء دایمي کمیسیون د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ددې قول په هکله: (یجدد لها دینها) داسې ویلی دی: هرکله چې خلک د دین دسمې لاری څخه منحرف او کاږه شي، دهغه دین دلارې څخه چه الله پاک خپلو بندگانو ته بشپړ کړی، او دهغه په سبب یې په دوی باندې خپل نعمت وپیرزایه، او هغه یې ددوی لپاره ددین په حیث اختیار کړ، نو بیا دوی ته یا یو عالم او یا ډیر عالمان چه داسلام سمه پوهه ورسره وي، ددعوتگرانو په حیث ورلیږی، ترڅو خلک سمې لارې ته راوبولی او هغوی دالله تعالی په کتاب او درسول الله صلی الله علیه وسلم په ثابتو سنتو باندې پوه کړی، دبدعتونو او په دین کې دنوو شیانو دداخلولو نه خلکو ته خبرداری ورکړي، او خلک دقرآن او سنت سره برابرې سمې لارې ته راوبولی، دیته دامت په نسبت تجدید ویل کیږی، نه هم ددین په نسبت چه هغه الله پاک تکمیل کړی، تغییر، ضعف او انحراف دامت په حالت کې واقع کیږی، اما خپله اسلام خو پاک الله دقرآن کریم او سنت دحفظ له لارې ساتی)[59]

شیخ عبدالله بن عبدالمحسن الترکي پدې هکله وایی: گمان نه کوم چه دهیڅ مسلمان به داسلامي فکر د تجدید څخه مطلب دا وي چه په دین کې دې داسې معناگانی داخلې شي، چه هغه په قرآن او سنت کې شتون ونلری، یا دتجدید څخه دهغه مطلب ددین دثوابتو تغیرول وي، یاهم ددین دکړی تنگول لکه دا چه اسلام یوازې دعقیدې په ډگر کې راونغاړل شي، او دعمل اړخ ورڅخه وباسی، او یاهم هغه په عباداتو کې حصر کړی او دژوندانه نورې ټولې خواوې ورڅخه وباسي، دا ډول ټول تصرفات ددین دمعنی تحریف دی.[60] او په بل ځای کې وایی: ( دتجدید څخه مطلب دادی چه په مجموعي شکل سره

---

[55]- یوسف القرضاوي، من أجل صحوة راشدة تجدد الدين وتنهض بالدنيا, دالشروق خپرنځای, القاهرة, 2001م: 28-29مخ.

[56]- وگوره: عصام أحمد البشير، التجديد مفهومه وضوابطه وآفاقه في واقعنا المعاصر، التجديد في الفكر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م): 937-938مخ.

[57] - الحاکم په مستدرک کې تخریج کړی, 5 شمیره حدیث.

[58] - امام احمد په خپل مسند کې دا حدیث راوړی دی, 8353 شمیره حدیث, اوحاکم هغه په مستدرك کې راوړی دی 7766 شمیره حدیث, او وایی: دا حدیث صحیح الاسناد دی اما مسلم او بخاری هغه ندی تخریج کړی.

[59] - عبدالعزیز بن باز, عبد الله بن قعود, عبد الله بن غدیان, اوعبد الرزاق عفیفي, دعلمي بحثونو او فتوا گلنو دایمي کمیسیون ( دالحکم علی الحدیث وبیان معنی من یجدد باب) 8687 شمیره فتوی.

[60]- عبدالله بن عبدا لمحسن الترکي, التجدید في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلی مجلس د دیرلسم کال دغونډې څیړنې او پیښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دایره شوې وه) دوزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوی مجلس) قاهرة 2002م : 31مخ.

امت ته خپل ديني هويت اعاده کړي، او په دين باندې داعتزاز روحيه تقويت کړي، او دسالمې عقيدې لورى ته دعوت او فعاليت ورکړي، چه بيا ټولنه هغه عملي کړي، تر څو په خپله عقيده باندې وياړ، دشريعت تابعداري او په اسلامي اخلاقو باندې التزام وکړي)[61].

**دآخر خبره:**

ددى څيړنى په آخر کى د لاندى ټکو ذکر کول مناسب بولم:

- په دين کى تجديد کومه نوى خبره نده، دا خبره رسول اکرم صلى الله عليه وسلم کړى ده، هغه ته يى ترغيب کړى دى، دشريعت علماو دهغه په هکله خبره کړى ده او دتجديد ساحات او برخى يى واضح کړى دى.
- شرعى تجديد درى لويى ساحى او برخى لرى: اول: دتدين دتجديد برخه، چه ددين دسمى پوهى او اسلامى ارزښتونو ته دعملى پابندى او اطاعت معنى ورکوى، دوهم: دواقع شوو مسايلو په هکله دشرعى احکامو پيژندلو ساحه، چه عموما دشرعى اجتهاد دژوندى کولو ساحه ده. دريم: دشرعى احکامو دتطبيق لپاره کوشش، او دهغه لپاره زمينه سازى کول، او د هغه تطبيقى صياغت تهيه کول.
- شرعى تجديد د اسلامى شريعت دمکمل او بشپړ تطبيقيدو لاره ده، هغه دامت دنهضت لپاره يوه کامله يو له بل سره تړلى طرحه ده چه دهغه په نتيجه کى به داسلامى امت له لاس نه وتلى برم او عزت بيرته لاس ته راوړل شى، او دسمى پوهى او سم عمل کولو له لارى به امت داوسنى دوير نه ډک حالت نه وباسى.
- شرعى تجديد هيڅ وخت ددين په ثوابتوکى دتبديل او تغيير معنى نه لرى، بلکه دا نوع تجديد ددين تحريف دى او اسلامى مفکرينو دهغه دمقابلى لپاره غږ کړى دى، او په مسلمانانو لازمه ده چه داسلام دسوچه او صحيح پوهى دخپراوى لپاره کوشش وکړى، او هغه مغرض حرکتونه برلا کړى چه دتجديد د کلمى ترعنوان لاندى ددين دنړولو او ياهم دهغه دتحريف کوشش کوى.

---

[61]- عبدالله بن عبدالمحسن الترکي، التجديد في الفکر الإسلامي (په قاهره کې داسلامي چارو د اعلى مجلس د ديرلسم کال دغونډې څيړنې او پيښې چې د31مي څخه تر3 جون 2001م پورې دايره شوې وه) د وزارت اوقاف له خپرونو څخه (د اسلامي چارو لوى مجلس) قاهرة 2002م: 29مخ.